خوشحال آصفي

۲۰۱۶/۰۲/۲۱

تودې غونډې؛ سړې پايلې

د افغان سولې د بهير د څلور اړخيزو غونډو؛ چې پاکستان، افغانستان، چين او امريکا پکې ګډون لري، د جوړولو پرېکړه د تېر کال په دسمبر کې په اسلام آباد کې د پاکستان په کوربه توب د افغانستان په اړه د ايشيا زړه په کنفرانس کې شوې ده. د دې لړۍ لومړۍ غونډه د جنورۍ په يوولسمه په اسلام آباد کې ترسره شوه. په دې ناسته کې د همغږۍ څلور اړخيزې غونډې د کار لپاره شرايط تصويب او په افغانستان کې د سولې او پخلاينې بهير د مخته وړلو په موخه د منظمو غونډو پر روانو ساتلو هوکړه وشوه. دغه راز پرېکړه وشوه چې په دې اړه دويمه غونډه به د مرغومي په ۲۸مه په کابل کې جوړه شي. دويمه غونډه په کابل کې ترسره شوه او يوازې دومره وشول چې طالبانو سره د خبرو د پيلولو لپاره د لارې پر نقشې خبرې وشوې. همداشان پريکړه وشوه چې درېيمه غونډه به د سلواغي مياشتې په ۱۷ مه نېټه په اسلام آباد کې ترسره شي. دريمه هغه هم ترسره شوه او وروسته له ډيرو هڅو دې پايلې ته ورسيدل چې له طالبانو سره د سولې خبرو اترو پر «نقشې» موافقه وکړي. د تيرو غونډو په څېر په دې غونډه کې هم د راتلونکې څلور اړخيزې غونډې نېټه وټاکل شوه چې له مخې به يې کابل د فبروري مياشتې د بلې څلور اړخيزې غونډې کوربه وي.

اوس په تازه کې راپورونه وايي کابل به راتلونکې اوونۍ د څلور اړخيزې ناستې کوربه وي. د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت ويلي دغه غونډه به د راتلونکې سې شنبې پر ورځ په کابل کې وشي. سرچينه وايي د څلور اړخيزو ناستو په راتلونکې غونډه کې به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پيلېدو پر عملي لارو چارو او دغو خبرو ته پر جوړ شوې ميکانيز خبرې وشي.

دا يو حقيقت دی چې افغان ولس غواړي د سولې د خبرو اترو پايله يوه سياسي پرېکړه وي، چې په افغانستان کې د زورزياتي په ختمېدو او د يوې دوامداره سولې په رامنځته کيدو تمام شي. خو که د دغو څلور اړخيزو غونډو تيرو دريو هغو او په تير کې له افغان سولې پروسې سره د پاکستان نيت ته وکتل شي؛ نو له راروانې څلورمې څلور اړخيزې غونډې هم د هيلو مزې شليږي. د پاکستان په نيت ځکه باور نه شي کيدای چې په تير کې يې د افغان سولې پروسې ته پراخ خنډونه رامنځته کړيدي. ښه بيلګه يې د سولې لومړي پړاو خبرو د ډپ کولو لپاره د طالب مشر ملا عمر د مړينې خبر خپرول دي چې دوه کاله وراندې مړ شوی و خو پاکستان د ځانګړي موخې په پار په حساس وخت کې خپور کړ. پخوا د سولې راوستو له پاره هيلې يو څه غوړېدلې وې، چې ګواکې کېدای شي د سولې خبرې پر مخ لاړې شي او يوې پايلې ته ورسيږي، خو د ملا عمر د مړينې د خبر په خپرېدو سره دغه هيلې ختمې شوې.

همداراز د څلور اړخيزو غونډو پايلو ته په کتو داسې ځرګندېږي چې دا غونډه به هم تش د کاغذ پر مخ په ژمنو وخرخې او کومه عملي پايله به ونه لري. دا تيرې دري څلور اړخيزې غونډې چې ترسره شوې دي؛ په کې د چين او امريکا رول هم تر ډېره د پاکستان په ګټه دی او افغان لوري ته يې کوم شه زيری نه دی درلودلی دی. اصلاً په دغو غونډو کې د امريکا او چين د پاکستان د استازو په خبر معلوميږي. هر څه چې پاکستان وايي؛ دوی يې ورسره تايدوي. افغانانو چې کومه هيله له امريکا او چين څخه درلوده چې دوی دواړه هيوادونه به په پاکستان فشار راوړي څو د افغان سولې پروسه کې د ژمنو پر ځای عمل وکړي؛ هغسې ونشو. دوی دواړو هيوادونو تر اوسه داسې کوم خاص فشار په پاکستان نه دی راوړی چې پر اساس يې د پاکستان په نيت کې بدلون راغلی وي. نو فلهذا له راتلونکې غونډې هم ډېری تمې نه شي کيدلای.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

همداشان که څه هم د طالب مشر ملا عمر له مړيني وروسته د طالبانو په ليکو کي درز رامنځته شوی دی؛ په دې وروستيو کي هم د طالبانو د خپلنځي اختلافاتو راپورونه ورکول کيږي. د طالبانو د پاشل کيد تر شاه د پاکستان لاسونه ښکاري چې غواړي يو ځل بيا د سولې پر مخ يو بل خنډ رامنځته کړي. اوس مهمه موضوع داده، چې له څلورمې څلور اړخيزې ناستې وروسته به د مخالفانو کومې ډلې په خبرو کي ګډون کوي او که نه؟ که ګډون کوي نو د دوی غوښتنې به څه وي؟ آيا د دوی د غوښتنو پلي کول د افغانستان د حکومت په وس کي دي که نه او يا لږ تر لږه نړيواله ټولنه کولای شي د مخالفينو غوښتنې ومني که نه؟

دا هغه پوښتنې دي چې وخت به يې ځواب ووايي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ